SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان

پنځم کال شپږ خلویښتمه ګڼه پرله پسي (۳۳۳) شنبه د۱۴۲۱هـ ق کال د ربیع الثانی (۲)
د۱۳۷۹هـ ش کال د چنګاښ دمیاشتی(۱۴) د ۲۰۰۰میلادي کال د جولای (٤)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) دیر نږدې دی تقوا(پرهیز گاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتي بگذارید.

د پلخمری په ښار کی :

په یوه تن قاتل باندی د قصاص الهی حکم تطبیق شو

بغلان – باختر :

د بغلان ولایت د مرکز پلخمری ښار په ورزشی لوبغاړی کی پرون له غرمی مخکی په یو تن قاتل باندی د قصاص الهی حکم تطبیق شو .

د نوی بغلان د یوولسم سرک د سیسمی اوسیدونکی محمد حکیم د ظفر خان زوی چی د ۱۴۲۰ هجری قمری کال د شعبان المعظم د میاشتی په ۲۵ نیټه یی د نوی بغلان د سرک د سیسمی اوسیدونکی ضابط د فتح خان زوی وژلی و د دغه ولایت د امنیتی موظفینو لخوا ونیول شو او له تحقیق او د بغلان او کندز د ولایتونو د نظامي محکمی له پریکړی وروسته په ده باندی د قصاص حکم صادر او د عالیقدر امیر المؤمنین له تایید او توشیح وروسته پرون د پلخمری ښار په ورزشی لوبغالی کی په عام محضر کی قصاص کړای شو .

په هغی غونډه کی چی له همدی امله د پلخمری ښار د یو زیات شمیر خلکو په ګډون د پلخمری ښار په ورزشی لوبغالی کی جوړه شوی وه د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو ایتونو ٤ مخ

بر اساس گزارشات موثق :

بار دیگر مسعود و سیاف در گردن یکدیگر افتادند

سیاف ازجانب مسعود به عنوان شعله ورکننده جنگهاي ذات البیني ملیشه ها یاد گردیده است

قوماندانان ملیشه اکنون از کشتار وحشیانه اطفال و زنان یکدیگر نیز ابا نمي ورزند

شریعت : قرار گزارشات رسیده به هفته نامه شریعت به دنبال شکست هاي پیهم تعرضات اخیر ملیشه بر خطوط مقدم جبهات اردوي امارت اسلامي و درگیري هاي متواتر میان قوماندانان مخالفین در ولایت تخار مسعود سیاف را به عنوان شعله ور کننده اصلي جنگهاي ذات البیني در ولایت تخار دانسته و قوماندانان اتحاد سیاف را عاملین اساسي شکست نیرو هاي شان در ولایات پروان و کاپیسا معرفي نموده است مسعود که در محضر عده کثیري از قوماندانان و حامیان خویش در پنجشیر صحبت مي نمود کلمات زشت در مورد سیاف استعمال نموده که با وقوف استاد سیاف از این بیانیه مشاجره لفظي مخابروي میان آنها صورت گرفته و هر دو یکدیگر را به تحریکات مخفي قوماندانان و مردم علیه خویش متهم نموده اند.

در گزارش آمده است که همین اکنون نیز جنگهاي شدید میان نیرو هاي سیاف و مسعود در تمامي قریه جات و مراکز ولسوالي فرخار ولایت تخار ادامه داشته و ده ها تن از افراد آنها در این زدو خورد ها کشته و یا زخمي گردیده اند خبر علاوه مینماید که انتقام گیري قوماندانان ملیشه ها از یکدیگر اکنون به سرحد وحشت هاي بي مثال رسیده و هر کدام از افراد گروه هاي مذکور حتي اطفال و زنان جانب مقابل را ظالمانه و بطور دسته جمعي به قتل میرسانند . مردم ولایت تخار از وحشت هاي اخیر ملیشه ها خیلي به تنگ آمده و ممکن غرض بیرون رفت از این تنگنا عنقریب به قیام علیه ملیشه ها دست بزنند.

د ستري محکمي عالي شوری غونډه وکړه

کابل – باختر :

د ستري محکمي عالي شورا پرون د قاضی القضات او د ستری محکمی د رئیس محترم مولوی نور محمد ثاقب په مشری غونډه وکړه .

د غونډی په پیل کی د کلام الله مجید څو مبارک ایتونه ولوستل شول او وروسته محترم قاضی القضات او د ستری محکمی رئیس د هیواد د قضایی موضوعګانو په باب هر اړخیزی خبری وکړی او دخپلی عالمانه وینا په یوه برخه کی یی وویل : د محکمو قاضیان باید د قضا باریکی او دا چی څومره د احتیاط غوښتنه کوی په پام کی ونیسی . خپل وختونه دیر ارزښتناک ویولی او د وخت له ضایع کولو څخه ډډه وکړی . هر ساعت او هره شیبه په ځان باندی حساب کړی هیڅ یو قاضی باید د خلکو په دعواوو او معاملو ٤ مخ

د افغاني سری میاشتی د عالي ټولنی عمومی رئیس او سکرتر جنرال د شریعت اوونیزی له خبریال سره په مرکه کی :

د افغانانو غمیزه او تراژیدی د بین المللی ټولنی تراژیدی ده

په نورو هیوادو کی مو له خیریه موسسو او میشتو افغانانو سره اړیکی ټینګی کړی

په لندن کی میشتو افغانانو تر اوسه پوری ۳۲۰ ملیونه افغانی مرسته کړی

شریعت : قدرمنو لوستونکو ! زمونږ خبریال د افغاني سری میاشتی د عالي ټولنی له عمومی رئیس او سکرتر جنرال محترم الحاج سید عبدالله آغا سره د ده د کار په دفتر کی په هیواد کی د وچکالی له امله در رامنځته ۲ مخ

د کابل ښاروالی د پلان له مخی :

د کابل ښار د زیاتو سیمو ویالی او لاری بیا ودانیږی

کابل ښاروالی د ټولګټو یا عام المنفعه ښاری پروګرامونو په طرحه کولو او عملی کولو سره تل د خپلو ښاریانو په خدمت کی ده .

کابل – باختر :

کابل ښاروالی له خپلی عادی بودجی څخه په استفادی سره د ۱۴۲۱ هجری قمری کال په لومړیو دریو میاشتو کی د آریانا کارتی د کانال او د لومړی ناحیی د ترخمکی لاندی ویالو د پاکولو او له ښار نه بهر ته د هغو اضافی موادو د لیږدونی او د باغ بالا د ٤ مخ

چهار تن از تکواندو کاران کشور :

بدریافت اسناد تکواندوي کوکي ون نایل آمدند

کابل – باختر :

براي چار تن از تکواندو کاران دیروز اسناد تکواندوي کوکي ون تفویض گردید. ص ٤

د وریو اوبدلو د فابریکی تولیدات بازار ته وړاندی شول

شریعت : د کانو او صنایعو د وزارت د وریو د اوبدلو فابریکی چی په پل چرخی کی موقعیت لری له اته کلن ځنډ څخه وروسته بو ځل بیا په فعالیت پیل وکړ او خپل تولیدات یی بازار ته وړاندی کړل .

د پلچرخی د وریو اوبدلو فابریکه چی د اسلامی امارت د ښارغونی د پالیسی له مخی د کانو او صنایعو د وزارت په هلو ځلو بو ځل بیا فعاله شویده ډول ډول د وریو کمپلی، غالی، په بیلا بیل جنسیت او شکلونو سره رنګین ٤ مخ

در ولایت لوگر یک باب دارالحفاظ افتتاح گردید

یك باب دارالحفاظ نهاري دیروز در ولایت لوگر افتتاح گردید.

لوگر – باختر :

در محفلي افتتاح دارالحفاظ متذکره که به اشتراك مسوولین ولایت لوگر استادان و طالب العلمان تدویر یافته بود سخنراناں در رابطه به اعمار و ایجاد مدارس و دارالحفاظ ها جهت تعلیم و تربیه اولاد وطن صحبت نموده از استادان تقاضا نمودند که با درك مسوولیت خطیر شان در مقابل وطن ص ٤

در شفاخانه اتاترک از آغاز سال ۱٤۲۱ تا کنون :

به تعداد ۲۳۰۰ مریض تداوي گردیده است

در نظر است که سرویس ولادي و نسایي نیز در این شفاخانه فعال گردد

شریعت : خوانندگان گرامي! خبرنگار ما اینبار از شفاخانه اتاترك دیدن نموده و در رابطه به چگونگي فعالیت آن شفاخانه با محترم مولوي حسام الدین «صابري» رئیس آن شفاخانه مصاحبه‌ء را انجام داده است که توجه شما را به آن ص ٤

د هرات ولایت د مدرسو د مدیرانو روزنیز سیمینار جوړ شو

هرات – باختر :

د هرات ولایت د مدرسو د مدیرانو او چاروکو تعلیمی او روزنیز سیمینار پرون جوړ شو .

په دی سیمینار کی چی د هرات ولایت د پوهنی ریاست په نوښت پیل شوی دی د مدرسو څلور شپیتو تنو مدیرانو او د څارنی غړو ګډون کړی دی او محترم ٤ مخ

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

د بندیانو تبادله د سولی لپاره لومړی ګام دی

د اسلامی کنفرانس په نوښت د جدی په مذاکراتو کی د اسلامی امارت او مخالفینو تر منځ یوه پریکړه دا وه چی دواړه خواوی به د جګړی ټول بندیان خلاصوی او د تبادلی په شکل به دا پروسه پر مخ ځی د اسلامی امارت لوری له هماغه لومړی ورځی په دی هکله خپل بشپړ تیاري او جدیت څرګند کړ ، خو له بده مرغه د مخالفینو د بی ځایه پلمو او ځنډونی په ۲ مخ

در جزیره فیجي دولت موقت جدید اعلان گردید

مقامات جزیره فیجي دیروز تشکیل دولت جدید غیر نظامي موقت را براي آن جزیره اعلان کردند .

مقامات گفتند که این دولت غیر نظامي جاگزین دولت قبلي خواهد شد که اخیراً توسط بومي هاي آن جزیره خلع قدرت ص ٤

په اندونیزیا کی د یوی بیړی ټولی سپرلی تری تم شوی

پداسی حال کی چی د اندونیزیا یی بیړی د مونډلو لپاره د پلټنی عملیاتو پرون په پرله پسی توګه د پنځمی ورځی لپاره دوام وکړ خو ددغی بیړی د نورو سپرلیو د ژغورنی لپاره هیله ص ٤

مردم پاریس پیروزي تیم فتبال شانرا جشن گرفتند

مردم پاریس پایتخت فرانسه برنده شدن تیم ملي فوتبال آنشکور را در مسابقه قهرماني اروپا جشن گرفتند.

منابع خبري بین المللي دیروز گزارش دادند که صد ها هزار نفر از باشنده گان پاریس در جریان شب گذشته گردهمایي هاي را تشکیل داده و برنده شدن تیم ملي فوتبال فرانسه را در مسابقه قهرماني اروپا جشن گرفتند. ص ٤

د چیچن مجاهدینو څلویښت تنه روسی عسکر ووژل

د چیچن جمهوریت د ارګون په ښار کی د روسیی د پولیسو قرارګاه ته نږدی د دوو بمونو د چاودنی له امله د روسیی پولیسو ته د سر د رانده زیانونه واوښتل.

د روسیی دولتی مامورینو پرون اعلام وکړ چی په دغو چاودونو کی څه نا څه ۴۰ تنه ووژل شول او څه د پاسه یو اتیا تنه تور ټپیان شول.

په تیرو ۲۴ ساعتو کی دا پنځم ځل دی چی د چیچن په جمهوریت کی د روسیی د میشتو برغلګرو پوځونو په نظامی مرکزونو کی دغه شان انتحاری چاودنی او بریدونه کیږی پداسی حال کی چی ددغو چاودنو له امله د روسیی د پولیسو د استوګنی د سیمی ودانی ویجاړه شویده د ژغورنی کار کوونکی خپل کار ته دوام ورکوی چی تری تم شوی کسان د ودانیو له کنډوالو څخه راوباسی. ٤ مخ

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوي ګڼې بیه : په هېواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ٢١٣٨١- توزیع او شکایات :٦٢٨٥٩
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

اثر دا پروګرام ډېر وروستی شو، تر دی چې دا دی بیا هم د جګړې اوربل شو او د بندیانو د خلاصون خبره یی ټکنی کړه که څه هم د تیری شنبی په ورځ هماغه د جنګ په شپېو کی د دواړو خواو استازی د اړوندو خبرو او د لومړی پړاو پروګرام جوړلو نه وروسته خپلو خپلو ځایو ته را ورسیدل، چی دا هم په دی هکله یو ښه پرمختګ دی او لازمه ده چی د جګړې ددغو بندیانو په خلاصون کی ډېر ګړندی اقدامات وشی او زر په زره د زندان له کړاو څخه وژغورل شی، او د همدی اسلامي او بشری خواخوږی په بنیاد اسلامي امارت تل د بندیانو د خلاصون او تبادلی غوښتنه او په دی هکله ټینګار کړی خو دا چی مخالفینو تل د پردیو په اشاره او د ملی ګټو په خلاف عمل کړی د بندیانو په تبادله کی یی هم هیڅکله اخلاص او جدیت نه دی ښودلی او تل یی پکی اړی اچولی تردی چی په دی وروستیو کی یی هم د نوو جګړو په پیل کولو سره وغوښتل یو ځل بیا دا پروسه شنډه او بیخی له یاده وباسی خو د اسلامی امارت په ټینګار اوهڅو د پروګرام لومړی پړاو بشپړ شو او ان شاء الله که مخالفین څه نور جنجالونه راجوړ نه کړی دا پروسه به په بریالیتوب سره سرته ورسیږی.

دا چی مخالفین د بندیانو په تبادله او خلاصون کی اخلاص نه ښیی او بر عکس تل پکی پلمی بهانی جوړوی، په خپله ددی خبری څرګندونه کوی چی دوی ان د خپلو جنګیالیو سره په چل او ټګی چلند کوی او په دی ډول د خپل ملت نه ډیر لری واټن کی پراته دی او له بلی خوا غواړی د اسلامی امارت مربوطو بندیانو په دایمی وهلو، کړولو او تعذیبولو سره د هغو کمونیستانو ارمانونه ورپوره کړی چی د پنجشیر او تخار په زندانو کی د بندیانو په څارنه او تحقیق ګمارل شوی. د مخالفینو په زندانو کی ددی ډول ناوړه او ظالمانه چلند چی د جنګی اسیرانو په مقابل کی یی تر سره کوی ، ډیرمستند شواهد او ښکاره بیلګی تر لاسه شوی دی خو په هر صورت اسلامی امارت د بندیانو د خلاصون لپاره مخکی هم څو ځله ډیر مثبت ګامونه اخیستی او د څو وروستیو میاشتو نه را په دی خوا په سلګونو اسیران د کابل د څرخی پله، کندهار، شبرغان او دا څو ورځی مخکی ٤٦ تنه د هرات د زندان څخه په یو اړخیز ډول د ښه نیت څرګندولو په خاطر آزاد کړای شوی دی چی دا د خپل ملت سره د ژورو اړیکو او ټولو پرګنو ته په درنه سترګه کتلو ډیر غوره مثال دی.

او په همدی ډول به د بندیانو د خلاصون او تبادلی لپاره تل هڅه او هاند کوی او د ولس د کړاونو د له منځه وړلو لپاره به لاری لټوی خو دا هرڅه هغه وخت په آسانی سره کیدای شی چی مقابل لوری هم د ملت د ارادو درناوی وکړی اود بندیانو خلاصون او تبادله چی یو انسانی او اسلامی ارمان دی، په ښه ډول درک او عملی کړی مګر د وروستیو جګړو د پیل او په دی هکله د مخالفینو د څرګندونو څخه داسی بریښی چی هغوی هیڅکله هم په دی باره کی رښتینی نه دی او بیا به هم هلی ځلی وکړی چی د بندیانو د تبادلی پروسه له ناکامی سره مخامخ کړی .

مترقي جګړه

د تیر عیسوی کال د جولای په میاشت کی د تایوان ولس مشر ښاغلی لي پینګ اعلان وکړ چی تایوان یو بشپړ خپلواک او خپل سری هیواد دی د چین په شمول ټوله نړی باید ددی هیواد خپلواکی تسلیم او هغه په رسمیت وپیژنی .

د ښاغلی لی، دغه خبره د چینایی چارواکو په مغزو ښه ونه لګیده او هغه یی بالکل د یوه ښکاره پوځی برید او جګړې په توګه تلقی کړه .

خو هغه پوځی برید داسی پوځی بریدو په څیر نه لکه نن سبا چی د نړی د مستکبرینو لخوا په اسکیرلو مسلمانو ملتونو فلسطینیانو، کشمیریانو چیچنیاپانو افغانانو ... باندی تر سره کیږی .

دغه برید نه د ځمکی پر مخ تر سره کیږی نه په بحر کی او نه هم په هوا کی د جنګی الوتکو په وسیله دا یو داسی برید او جګړه وی چی برید کوونکی هم یو بل نه سره وینی نه سره زخمیانوي او نه یوبل سره وژنی

د همدی برید او جګړې مورچلونه هم د عادی جګړې د مورچلونو په څیر زیږه او له ستونزو ډک نه وی ځکه دا مرچلونه د کمپیوتر ښایسته میزونه دی چی په مجللو دفترونو کی قرار لری دغه جګړه ځکه دومره ځانګړتیاوی لری چی هغه د یو ویشتمی پیړي مترقي نوی ماډل جګړه ده او دغی جګړې ته د انترنیت د شبکی په وسیله کمپیوتری عصری جګړه ویل کیږی یو ځلی ددی جګړې په ترڅ کی چینایی پوځیانو په تایوان ۷۲ زره بریدونه ترسره کړل خو له دی ټولو څخه یواځی ١٦٥ اغیزمن واقع شول او دا یی هم وکولای شول چی د چین بیرغ د انترنت په شبکه کی د تایوان د مرکزی مخابراتو د مرکز دپاسه ودروی.

دغه انترنتی جګړه کله نا کله د زور ورو بمونو شکل ځان ته غوره کړی او دومره تاوان ورسوی لکه چی د ناټو د هوایی بریدونو له خوا په بلګراد کی د چین سفارت ته ورسیده

لنډه دا چی دغه ډول انترنتی جګړه د اېغړوله اړخه ښه درنه وی خو خبره اصلاً په دی کی ده چی ایا دغی جګړې ته رښتیانی جګړه ویلای شو او که یواځی د انټرنت د صفحی په مخ کمپیوتری حرکات .

نړی خو د خپل تاریخ په اوږدو کی د

چې نه مري لا به واوري

ليکنه. عبدالرحیم «ثاقب»

جګړې بیلا بیل ډولونه پیژندلی دی د ساري په توګه : د انسانانو تر منځ د کانو ویشتلو جګړه ، د تورو وهلو جګړه ، د نیزو وهلو جګړه، د توپک، توپانچو، توپونو، قاره پیما توغندیو او آن یو پر بل باندی د کیمیاوی او اتومی توکو د استعمال جګړه .

چې ددغو جګړو د قربانیانو شمیر به لسګونو، سل ګونو،زرګونو، لکونو او آن ملیونونو ته رسیده . اوس سړی نه پوهیږی چی دی ډول جګړې ته یواځی انترنتی جګړه ووایی او که د نړی د پرمختللو هیوادونو تر منځ د ساینس او تکنالوجیٔ پرمختګ د سیالی څرګندونه که هر څه وی هغه به وی او د ګیتی خوند به یی د نړی مترقي واکمنان څکي. خو د وروسته پاتی مسلمانانو لپاره به په ٢٠٠٠ کال کی هم د نړی د مترقي انسانانو لخوا انسان وژونکی او سوځوونکی کروز توغندی او نوز وژونکي وسلي ډالی کیږی او بیا به له ډیره بده مرغه هغه په خپلو منځونو کی یو پر بل داسی استعمالوی چی په لیری لیدونکو عصری وسایلو کی به یی دښمنان په حیرانوونکو ننداره مزې اخلی.

د افغانانو غمیزه او تراژیدي د بین المللي ...

کیدونکو ستونزو په باب یوه مرکه کړی چی دا دی ستاسی د مطالعی لپاره یی خپروو .

په پیل کی محترم الحاج سید عبدالله آغا داسی وویل : له ۱۹٦۱ کال را پدیخوا سږکال سختی او شدیدی وچکالی د افغانستان جنوب غربی سیمی او په ځانګړی توګه د کندهار ، هلمند، زابل، ارزګان او نیمروز ولایتونه سخت اغیزمن کړی د اوبو منابع وچی شوی کوچیانو له ٦٠ نه تر ۷۰ ٪ پوری خپل مالونه له لاسه ورکړی، په ریګستانو کی اوبه وچی شوی او خلک مهاجرت ته اړ شوی دی د اوبو سطحه ټیټه شوی او د څښلو د اوبو کمښت هر ځای او په ځانګړی ډول د کندهار ښار کی زیات احساسیږی د کندهار په ښار کی د اوبو کمښت او نشتوالی په تیرو څلویښتو کلو کی ساری نه لری په عمومی ډول باید ووایم چی ددی وچکالی لمن د افغانستان مرکزی شمالی او شرقی سیمو ، غزنی میدان، وردګو او نورو سیمو ته خوریږی د پکتیا او پکتیکا په ولایتونو کی هم د کرنی او د څښلو د اوبو کمښت لیدل کیږی باید ووایم چی کرکیله له منځه تللی، د کوچیانو د مالونو شنه څړ ځایونه په دښتو بدل شوی، په زرهاوو څاروی مړه شوی او په زرهاوو خلک د اوبو د نشتوالی له کبله مهاجرت ته اړ شویدی دا وچکالی ممکن د نورو انسانی وژنو مهاجرتونو او بې ځایه کیدو او د اجتماعی او اقتصادی بنستونو د له منځه تلو سبب شی.

نو په دي ډول ستونزمنو حالاتو کی افغانی سری میاشتی خلکو ته د مرستی لاس اوږد کړی دی ده زیاته کړه : د هغه سفر په نتیجه کی چی څه موده مخکی ما عربی متحده اماراتو ته درلود د نوموړی هیواد حکومت د دوه زره دری اویا ټنه خوراکی موادو مرسته وکړه چی دا مواد د سری میاشتی د ټاکلی هیئت له خوا د کندهار ، هلمند، ارزګان، زابل او پکتیکا په ولایتونو کی پر بیوزلو او ځپل شویو خلکو وویشل شول البته د کندهار د سری میاشتی له خوا هم د نړیوال فدریشن په مرسته په مستحقو کسانو باندی په زیاته اندازه خیمی ، د پخلی لوښی او داسی نور د اړتیا وړ مواد ویشل شوی همدارنګه سره میاشت د هغی ګډی سروی په نتیجه کی چی د سره صلیب، نړیوال فدریشن او سری میاشتی له خوا تر سره شوی په پلان کی لری چی په روغتیایی چارو او نورو ساحو کی هم په پراخه اندازه مرستی وکړی .

دی زیاتوی: مونږ له نړیوال سره صلیب او نړیوال فدریشن سره یوه ګډه سروی تر سره کړی تر څو په دغوولایتونو کی له مستحقو او غریبو هیواد والو سره مرستی وشی چی په دی لړ کی به زمونږ د ګډو هلو ځلو په نتیجه کی ډیر ژر پنځه خوځنده کلینکونه د کندهار، هلمند، ارزګان، زابل او نیمروز په ولایتونو کی جوړ شی او په دي ډول به خلکو ته وقایوی، معالجوی ښوونیزی او روزنیزی روغتیایی چاری ورسول شی او همدارنګه د کار په مقابل کی به د غذا پروژې له سره صلیب سره په ګډه پر مخ بوزو. د هغو سفرونو په نتیجه کی چی ما د پاکستان هیواد او عربی متحده اماراتو ته درلودل. د عربی متحده اماراتو حکومت د یوی اندازی غذایی موادو مرسته وکړه په پاکستان کی میشتو خیریه موسسو هم وچکالی وهلو سیمو کی د کرنی او څښلو د اوبو لپاره د ژورو او سطحی څاه ګانو د کیندلو ژمنه وکړه چی انشاء الله ډیر ژر به خپله ژمنه تر سره کړ ی همدارنګه په نورو هیوادو کی له خیریه موسسو او میشته افغانانو سره هم تماس شته چی د دوی مرستی هم د یادونی وړ دی په لندن کی میشتو افغانانو له وچکالی ځپلو خلکو سره دری سوه شل ملیونه افغانی مرسته کړی، د سعودی عربستان خلکو او په دغه هیواد کی میشتو افغانانو یو لک ریاله مرسته کړی چی دا مرستی به په لنډ وخت کی مونږ ته رارسیږی او دخلکو د خیر ښیګنی په چارو به ولګیږی .

نوموړی زیاته کړه سری میاشتی د خپل جوړښت څخه راپدیخوا تل د طبیعی آفاتو څخه متاثره اشخاصو ته په وخت او کافی اندازه مرستی رسولی دی تر څو د خلکو مشکلات لری کړی باید ووایم چی اوس مونږ د محدودو تمویلی منابعو او اقتصادی مشکلاتو او کمبودیو سره په داسی وضعیت کی نه یو چی په یوازی سر او سنبو مشکلاتو ته په وخت او مناسب ځواب وویلی شو بلکی د نورو نړیوالو خیریه ټولنو اسلامی، انسانی او بشردوستانه مرستو ته سترګی په لاره یو .

نوموړی زیاتوی : زه په کلکه له بین المللی ټولنی او ټولو هغو حکومتی، غیر حکومتی ، شخصی ادارو او خیریه موسساتو نه غوښته کوم چی له مونږ سره لاسونه یو کړی او د افغانستان د غریبو مظلومو او نادارو خلکو د مشکلاتو د حل په نیت د مرستی لاس را اوږد کړی زه باور لرم که چیری مونږ د ټولنیز مسوولیت په احساس یو څه مرسته وکړو نو زمونږ ځوریدلی خلک به د یوه آرامه ژوند خواته لاره پیدا کړی او خپله روښانه راتلونکی به د همکاری او مینی په بنیاد جوړه کړی .

زه یو ځل بیا بین المللی ټولنی ته مخ ور اړوم تر څو وچکالی ځپلو او غریبو افغانانو سره مرسته وکړی د افغانستان د مظلومو خلکو غمیزه او تراژیدی د بین المللی ټولنی تراژیدی ده د افغانستان رنځیدلی ولس چی ډوو لسیزو جګړو څخه متاثره شوی او اوس وچکالی هم د دوی مشکلات څو ځله زیات کړی د مرستی وړ دی دوی حق لری چی په سوله ئیزه فضا کی له ستونزو پرته ډاډمن ژوند وکړی .

ایا رښتیا هم غرب د افغان کشالی د حل پلوی دی ؟

فاروق

څه موده مخکی د پخوانی پاچا ظاهر شــــاه یو پلاوی امریکی ته ددی لپاره تللی و چی د افــغان کــشـالی د حل او په اصطلاح د لـویی جـــــرگی د برياليتوب لپاره د امریکی نظر واخلی او ملاتړی تر لاسه کړی دا چی د ستونزی د حل لپاره هلی ځلی کیږی او دا د هر با احساسه افغان آرمان هم دی چی هیواد ته دایمی سوله او استحکام راشی، ډیره په زړه پوری خبره ده خو یوازی دومره احتیاط په کار دی چی خدای دی نه کړی زمونږ هلی ځلی او منډی تړی داسی نتیجه ورنه کړی چی د اسلام او هیواد په تاوان او د دښمن په گټه وی او داسی حـرکت ونه کـړو چی دښمن تری استفاده وکړی .

او مهمه خبره دا ده چی تر هر څه ړومبی باید خپل دوست او دښـمن وپیـژنو او بیـا دوهمه ضروری خبره دا ده چی د دښمن د غـوښتنو طرحـو او پلانونو په اصلی مقصد او هدف پوه شو چی آیا دا خبره یی زمونږ په گټه ده او که په تاوان او آیا دا جهت مو دوست دی او که دښمن ؟ چی په دی خـبـره به زمـونږ خـبـر او نیکمـرغی غـواړی او کـه نور هم جنجـالونـه راته زیاتوی مـثـلاً د افـغان ربړی د حل لپـاره د لویی جرگی د هڅو ملاتړ چی غرب یی هسی په خولی سره تایید کوی نو په دی هکله ښه غور او څیړنه په کار ده چی آیا رښتیا هم امریکا او نوره غـربی نړی زمـونږ د ستونزو حل غواړی او کـه هسی د موجوده نظم د درهم او برهم کولو لپــاره یی د یوه بهرنی دباو په ډول څه موقتی ملاتړ کوی، تر څو په دی شـان دلتـه مـوجـود واقعیت د فشار لاندی ونیسی او د حریت او استقلال د لاری څخه یی منصرف او د هغوی د نوکری او مریتوب کړی ور تر غاړی کړی حقیقت خو دا دی او ان شاء الله هر چاته به څرگنده وی چی غـرب او د نړی ټول کـفـار هیڅکله هم په یو اسلامی هیـواد کی نظم او استحکام نه غواړی، بلکی تل دا هڅه کوی چی یو ډول جنجال خو ورته جـوړ کـړی دا یو هسی پوخ حقیقت دی چی هم یی لوی کتاب قرآن مجید تایید وی او هم عقل ، تجربه او واقعیت او که څوک په دی هکله څه بل نظر لری او یا یکی شک کوی نو دا خو صریحاً د قرآن مجید څخه مخالفت دی نو کله چی په قاطعیت سره ثابته شوه چی ملگری ملتونه ا غربی یا کفری نړی هیڅکله زمونږ د خیر ښیگنی خبره نه کوی او نه زمونږ د نیکمـرغی څه پلان راته ښـودلی شی نو بیــا خــو په کــار ده چی هیڅکله هم کوم افغان مشر بی ځایه او بی فـایدی پردی دروازی ونه ټکوی او د خــپلو مـــشکلاتو مـلاتړی ونه غـواړی بلکی ټولو افــغـان علمـاؤ روښــان فکرانو سیاست پوهانو او تجربه لرونکو سپین گـیـرو ته په کـار ده چی د واشنگټن، جنیــوا، مـــسکو، تاشکند، پاریس، تهران او اسلام اباد لری لری سفرونه پریږدی او د هیــواد په دننه کی د یو ولایت نه بل ولایت ته او د یو کـلی نه بل کلی ته نیږدی نیږدی سفرونه وکړی چی په دی ډول نه د بل چا سـفــر خــــرڅ ته اړ شی او نه د بل چا لارښوونی او پروگـرامونو ته او نه ددغو ناظرین او کتونکی ورسره وی او نـه د هغـو بس همـدا به یوه ملی او افغانی جرگه وی او همدا ډول جرگه بـه خامخا د خپل ملت په گټه او د سوچه اسلامی روایاتو په بنسټ پریکړی کوی او داسی فیصلی چی افـغان ولس یکی ونه ځوریږی ، ستونزی یی زیاتی نه کړی او داسی به نه کوی چی خپل سرته رسولی کار بیرته له منځه یوسي او له نوی سـره د بیــا بیــا تجـربو په تکرارولـو سـره د ملت سـتړیاوی لاپسی زیاتی کـړی دا جرگه به همدا اسلامی امارت تایید وی او د نیمگړتیـاوو د پوره کولو لاری چاری به یی سنجـوی ځکه د افـغانسـتـان اسلامی امـارت چی د زرگـونو غـازیانو او شهیـدانو د جهاد او مبارزی محصـول دی، په بشپړ ډول د خپل ملت له دینی او ملی غوښتنو سره سمون لری او په ډیرو کلکو بنسټونو ولاړ دی نو تر څو به د نویو نویو تجربو په عملی کولو سره ددی مجاهد ولس په سر لوبی کیږی او د هر ناپوه او ناقابل طبیب نسخی به ورته راوړل کیږی، کومی چی هیڅکله هم د ناروغ له مـزاج ســره ســمـون نه لری نو ای ټولوافـغـــان پوهانو او مـشـــرانو راځی ټول په گډه د همدی موجوده امارت د لاسمون او بشپړولو لپاره په اخـلاص کـار وکـړو او په همدی خپل کور کی د ستونزو حل ولټـوو نه دا چی موجـوده نظـام د دښــمـن په لاس وران کـړو او بیــا له نـوی سـره د پردیو په خوښه له نیویارک او واشنگټن څخـه کـومـه بله نقشه راوړو .

لیکوال : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا

ژباړن : بشار

۲

د اصحابو د ژوند پلوشي

په دغه وخت کی، عمر د سعید څخه د ملاتړی او مرستی غوښتنه وکړه، او ورته یی وویل : ای سعیده! مونږ د حمص په خلکو باندی ستا ټاکونکی یو . سعید وویل : ای عمره! د خدای په لحاظ ما د دنیا د سختی سره مه مخامخ کوه .

عمر په قهر شو او ویی ویل : تاسی ته دی افسوس وی چی تاسی دغه کار زما تر غاړی کړ، او بیا ما یوازی پریږدی په خدای سوگند، چی زه ستا پریښودونکی نه یم.

بیا هغه یی د حمص والی مقرر کړ، او ورته یی وویل : ایا ستا لپاره څه معاش ونه ټاکو ؟

هغه وویل : ای امیر المومنینه ! په معاش څه وکړم هغه برخه چی له بیت المال څخه لرم هغه زما له حاجت څخه زیاته ده .

بیا حمص ته ولاړ، ډیر وخت لا نه و تیر شوی چی څو تنه باوری خلک امیر المومنین ته راغلل او امیر المومنین هغو ته وویل : تاسی د خپلو بی وزلو د نومونو لست راکړی څو د هغو حاجت ترسره کړم.

راغلیو کسانو، خلیفه ته لست ورواندی کړ چی په هغه کی داسی لیکل شوی و :

فلانی، فلانی او سعید بن عامر.

عمر وویل : سعید بن عامر څوک دی ؟

هغو وویل : زمونږ والی .

عمر وویل : ایا ستاسی والی بی وزله دی ؟

هغو وویل : هو، په خدای سوگند په هغه باندی ډیری ورځی تیریږی او د هغه په کور کی اور نه بلیږی. عمر ددی خبری په اوریدلو سره ډیر وژړل تر دی چی ږیره یی په اوښکو لمده شوله، بیا له ځایه پاڅیده او زر دیناره یی په میانی کی کیښودل او ویی ویل :

سعید ته زما سلام ورسوی او ورته ووایی :

امیرالمومنین تاته دغه مال ولیږه څو په دغه مال سره خپل حاجتونه تر سره کړی .

* * * *

د خلکو ډله د میانی سره سعید ته ورغله، او میانی یی هغه ته ور وړاندی کړه، سعید میانی ته وکتل، او له ځان څخه یی لری کړه او ویی ویل : « انا لله و انا ... »

گوندی په هغه باندی څه ټکه ښکته شوه، او باورته یله څه سخته پیښه شوه!!

ښځه یی له ویری پورته شوه او ویی ویل : ای سعیده ! څه درپیښ شول ؟! ایاامیر المومنین مړ شوی ؟!

سعید وویل : بلکه له دی څخه هم لوی .

هغی وویل : ایا مسلمانانو ته په کومه پیښه کی څه رسیدلی دی ؟

هغه وویل : له دی څخه هم لوی.

هغی وویل : له دی څخه لوی څه دی ؟

هغه وویل : ماته دنیا راغله څو زما آخرت خراب کړی، او فتنه زما په کور کی پیدا شوه .

هغی وویل : ورڅخه ځان خلاصه کړه .

هغی دا خبره په داسی حال کی وکړه چی د دینارونو موضوع ورته څرگنده نه وه .

هغه وویل : ایا ته د هغه په باب له ما سره مرسته کوی ؟

هغی وویل : هو . بیایی هغه دینارونه واخیستل، او په څو میانیو کی یی واچول، او پربی وزلو باندی یی وویشل.

ډیر وخت لا نه و تیر شوی چی عمر بن الخطاب «رض» د خلکو د خبر اخستلو لپاره شام ته لاړ کله چی حمص ته ورسید، د حمص خلک د هغه د سلام لپاره ورغلل، او بیا هغه خلکو ته داسی وویل : تاسی خپل امیر څنگه وینی ؟ خلکو د خپل امیر څخه شکایت وکړ، او د هغه څلور عملونه یی وریاد کړل چی هر یو یی د بل څخه لوی و .

عمر وویل : ما هغه او خلک راغونډ کړل، او له خدای څخه می وغوښتل چی د هغه په باب زما گومان په بله نکړی ځکه ما په هغه باندی ډیر باور درلود . کله چی خلک او د هغوی امیر زما حضور ته راغلل نو ومی ویل : د خپل امیر څخه شکایت لری ؟

هغو وویل : تر هغه چی لمر پورته رانشی دی مونږ ته نه راوځی .

ما وویل : ای سعیده! په دغه باب څه وایی ؟ سعید لږ څه چپ پاتی شو او بیا یی وویل : په خدای سوگند، ما نه غوښتل چی په دغه باب څه ووایم. خبره دا ده چی زه په کور کی خدمتگار نلرم نو زه پخپله هر سبا اوړه اغیږم او بیا گورم چی هغه خمیره شی، او بیا ورڅخه ډوډی پخه کړم. بیا اودس کوم او خلکو ته راوځم.

عمر وویل : ما خلکو ته وویل چی بل څه شکایت لری ؟ هغوی وویل : دی په شپه کی څوک خپل حضور ته نه راغواړی. ما وویل چی ای سعیده! په دغه باب څه وایی ؟

هغه وویل : په خدای سوگند، ما نه غوښتل چی دا هم ښکاره کړم ولی خبره دا ده چی ما ورځ د خلکو لپاره، او شپه می د خپل لوی خدای لپاره ټاکلی ده .

ما وویل چی بل څه شکایت لری ؟ هغوی وویل : دی په میاشت کی یوه ورځ نه راوځی .

ما وویل چی ای سعیده! دا څه دی ؟ هغه وویل : ای امیر المومنینه ! زه خدمتگار نلرم، او له دغی جامی څخه پرته چی په ځان می ده بله جامه نلرم. نو زه خپله جامه په دغه ورځ وینځمه، او بیا ورته گورم څو هغه وچه شی، او بیا د ورځی په آخر کی وځم.

پاتی لري

اروپا در حلقه زنجیر استکبار

غفور احمد غزنوي

اروپاي امروزي كه داراي ٥ ، ٧١١ مليون نفوس و ١٠ مليون كيلو متر مربع مساحت ميباشد و با داشتن ٤٣ كشور ١٣ ، ٥ در صد نفوس جهان را تشكيل ميدهد در طول تاريخ بسيار كشمكش هاي متعددي را پشت سر گذاشته و شاهد تغييرات زياد گرديده كه از آنجمله يكي هم رقابت تسلط بر اروپا در سنوات بعد از جنگ جهاني دوم بين دو بلاك متضاد بشمار ميرود. گرچه اروپا در سال ١٩٤٥م به اثر اين تشنجات ويران گرديده بود ولي باز هم مالك يكي از بزرگترين كارخانجات صناعتي دنيا بود . اروپا بواسطه سرحدات كشور هاي عديده و وجود درجات اجتماعي ميان طبقات اقتصادي منشت بود اگر ضايعه عظيمي روي نمي نمود اروپا غير ممكن بود كمونيست شود با وجود اينكه در فرانسه و ايتاليا يك ربع نفوس به نمايندگان كمونيست رأي داده بودند و كمونيست ها نقاط مهمي را در اتحاديه هاي كارگري در دست داشتند ولي اين نظريه كساني بود كه نميخواستند اقتصاد يا فرهنگ اروپا را به اسلوب اقتصاد و فرهنگ امريكا در آورند و آنها مانند ساير اجتماعات و ملل در تلاش حفظ شخصيت يا لا اقل استقلال معنوي در آنزمان بودند اما مرامهاي دو رقيب جهاني در منطقه متفاوت بود به اين مفهوم كه اتحاد شوروي سابق از اشوب اروپا استفاده ميكرد براي بدست آوردن اهداف خوّد ولي ايالات متحده امريكا از ترميم و تقويه اروپا به نفع خود استفاده مينمود به همين اساس غرب بعد از جنگ دوم براي تخفيف آلام اروپا معادل بليون ها دالر جامه و اسباب به اروپا ارسال داشت و به اين ترتيب حس بشر دوستي خود را در اذهان مردم اقناع نمود و از جانب ديگر براي امتعه كارخانجاتي كه بخرچ مؤديان ماليات امريكا بميان آمده بود بازار ها ايجاد نمود كه با استفاده از اين عمل افراد طبقاتي كارگر اروپايي را كه تمايل به طرف كمونيزم نشان ميدادند تقليل نمود. همچنان المان كه قلب دستگاه صنعتي اروپا بود مورد رقابت غربيان و اتحاد شوروي آنزمان چنان قرار گرفت كه ايالات متحده آنرا مفتاح ترميم اروپا پنداشته و مايل به اين بودند تا آلمان را آله، عمران مجدد اروپا نمايند لذا به ترميم اوضاع اقتصادي آن متوجه گرديده و در مقابل روسها پافشاري مينمودند تا آلمان وسيله عمران و ترميم خرابي هاي شوروي كه در جنگ دوم نسبت به دول ديگر بيشتر متحمل گرديده بودند قرار داده شود ولي طبيعي مينمود كه غرب نميخواست از يك جانب كمكهايش به آلمان سرازير شود و از جانب ديگر بعنوان غرامات جماهير شوروي آنزمان بيرون برده شود بالاخره اين رقابت ها منجر به اضطكاك (تقسيم) المان گرديد. نزديكي روابط ايالات متحده امريكا با اروپا، رفع قيودات و غيره تسهيلات تجارتي كه غرب به اروپا قايل بود اگر دقيق مطالعه شود سخاوتي بود خلاقه و تدبير بزرگي بود اقتصادي وآنچه كه اين برنامه مقرر ميداشت جز اين چيزي ديگري نبود كه كشور ثروتمندي مانند ايالات متحده امريكا منابع اقتصادي خود را بمنظور احياي رقباي خود مصرف و به كار اندازد ليكن روسها نيز چون سرزمين آلمان شرقي و بر علاوه آن تمام اروپاي شرقي را در زير فرمان داشتند در مقابل دول غرب صاحب تك خال هايي بودند بأن هم غرب چنانچه از پاليسي آن هويداست اهداف خويش را در لفافه كمك بشر دوستي پيش برده و خود را چون پدر مهربان اروپا وانمود ميساخت كه اينست امروز قلم به دستان حق گو اهداف پنهان آن لفافه را به جهانيان هويدا ميسازد اينك در اواخر قرن بيستم تقريباً هدف نهايي طرحي را كه جنرال مارشال و زير امور خارجه ايالات متحده امريكا در سال ١٩٤٧ م يعني پنجاه و دو سال قبل از امروز اعلام داشته بود و به اساس آن كمك هاي غرب به اروپا شكل ديگري به خود اختيار كرد بدست مي آيد برنامه و طرح مذكور به كمك مارشال شهرت يافت و در مورد آن سياستمداران وقت چنين ابراز نظر ميكردند كه قضاوت چنين برنامه طويل المدت بر عهده نسل هايي خواهد بود كه هنوز از مادر نزاده اند.

ولي آنچه به وقوع پيوست پيش از ميعاد پيش بيني شده اش بود زيرا كمكهاي متمادي ايالات متحده بواسطه طرح جنرال مارشال ازيك سو و برداشتن گام مشترك عده اي از كشور هاي اروپايي كه ىتي بيمان بروكسل در سال ١٩٤٨ به اشتراك انگلستان، فرانسه ، هالند ، بلژيك و لوكزامبورك صورت گرفت باعث گرديد تا دول مزبور شروع بتدارك طرح هاي نظامي بيشتري مشتركاً نمودند تنها دشمن آنها بي آنكه بنام مشخص باشد جماهير شوروي بود و در سال ١٩٤٩ م بموجب پيمان اتلانتيك شمالي يعني ناتو، ايالات متحده امريكا منتقل گرديد كه براي تسليحات دول اروپايي تجهيزات لازم را در اختيار آنها قرار بدهد و تماميت اروپاي غربي را در برابر تجاوز تضمين نمايد.

ادامه دارد

دین نصیحت دی

حدیث شریف

« بی له شـــکه الله تاسی ته امر کوی چی امانتونه په خپلو څښتنانو وسپاری »(النسآء ۵۸ آیت)

دافغانستان د اسلامی امارت اداری تشکیلات او ټولی کاری ځانګی د خدای فضل دی د ډیرو مخلصو او بادردو اشخاصو تر مشرتابه لاندی په داسی ډول چلیږی چی د أسلام د مقدس دین او افغانی ثقافت ټولی بنیادی غوښتنی پکی مراعات شوی دی او له دینی اخلاقی پلوه ډیری ستونزی پکی نشته خو که سړی ښه ځیر شی او د ادارو عمومی کړه وړه په غور سره وڅیړی نو داسی محسوسیږی چی په کار د نه پوهیدو او د تجربی د کموالی له پلوه په ځینو ځایو کی څه مشکلات شته د کار ځینی داسی ډګرونه هم وی چی هلته ښه پوه مسلکی سړی ته اړتیا وی او د «لکل فن رجال» په مصداق هر څوک نه شی کولای نوموړی دنده په ښه ډول سرته ورسوی او دا شان د اهل او لایق شخص د نشتوالی له کبله په اړوندو کارو کی یو لړ ستونزی را پیدا کیږی او بالاخره د یوه کم تجربه شخص د تصرفاتو په وجه امارتی اداری د بدنامی سره مخامخ کیږی او د ولس په منځ کی خپل اعتبار بایلی، نو ددی لپاره چی د افغانستان اسلامی امارت د زرګونو شهیدانو او غازیانو د جهاد او قربانی محصول دی او باید ټول هیواد وال خصوصاً امارتی مسوولین او چارواکی د خپلو کارو د لا ښه اغیزمنتوب او د ادارو د لا ښه نظم او فعالیت لپاره هر اړخیزی هلی ځلی او اخلاص وکړی او د الله عزوجل د قران سره سم چی وایی : ترجمه - « بی شکه الله درته امر کوی چی امانتونه پر خپلو څښتنانو وسپاری - النسآء» ښه تجربه کار، پوه او معقول اشخاص دي په کارو وګمارل شی.

زمونږ ګرویدلی مجاهد ملت اوس شپه ورځ خدمت ته اړتیا لری او داسی مخلص خادمان ورته په کار دی چی یوه شیبه هم د خپل ولس له درد او غمه بی پروا نه شی او تل یی د ښیګنی او سوکالي په سوچ کی وی . د اسلام د سپیڅلی دین د شعایرو اوچتوالی او د هیواد ودانی او سمسورتیا باید زمونږ لوی ارمان وی او ددی مقصد د لاس ته راوړلو لپاره په کار ده چی د اشخاصو په توظیف کی همیشه دغه دری معیارونه په نظر کی ونیول شي :

۱- تر هرڅه مخکی تقوی او د اله عزوجل په دین باندی استقامت او اخلاص معتبر دی او همدا خصلت د ډیرو خیانتونو او ناروا مخه نیسی .

۲- باید موظف شخص د خپل هیواد او ملت سره مخلص وی، د خپل هیواد په نظریاتی اصولو پابند او د خپل ولس د خدمت او خیر ښیګنی تاندی جذبی او ارمانونه ولری.

۳- کفایت او اهلیت هم خورا مهم شی دی، یو کس باید وازمیل شی چی آیا په خپلو ورسپارل شوو دندو کی به څومره بریالی وی او دا به ورته ممکنه وی چی د خپل ولس دا امانت به په ښه ډول سرته ورسوی ؟؟!

نو که په رښتینی ډول د پوُتنیو معیارونو سره سم د اشخاصو توظیف او ټاکنه وشی، په یقینی ډول ویلای شو چی زمونږ امارت به واقعاً یو رښتینی اسلامی امارت او د مسلمانانو په ارمانونو پوره وخیږی او که متوجه نه شو او د ملت دا حق تر شخصی او سلیقوی نظریاتو قربان کړو نو بیا خو حتماً لکه ټول چی په یوه بیړی کی سپاره یو، همداسی به ټول په یو ځای ډوب او هلاک شو .

****

په اندونیزیا کي د یوې بیړۍ ...

کمه شویده .

د اندونیزیا مامورینو پرون ویل په اوس وخت کی ددغی بیړی څلور سوه اتیا تنه سپرلی تری تم دی.

مامورینو زیاته کړه چی سیمه ییزو کب نیوونکو پرون د تری تم شوی بیړی یوازی لس تنه سپرلی وژغورلی سیمه ییزو کب نیوونکو تایید کړیده چی دغه بیړی د پنجشنبی په ورځ د مالکالا په ټاپو په اوبو کی ډوبه شویده.

د مالکالا بندر یوه چارواکی وویل چی تر اوسه پوری ددغی بیړی او یا د هغی د پاتی سپرلیوکومه نښه نښانه نده تر لاسه شوی. دغه بیړی پداسی حال کی چی پنځه سوه تنه سپرلی یی لیږدولی د تیری پنجشنبی په ورځ کله چی د المارا له ټاپو څخه ماناډو ته روانه وه په یوه توفانی فضا کی تری تم شوه .

د کابل ښار د زیاتو ...

دهن نل څخه د دویم پروان تر څلور لاری پوری د سړک د غاړو د ویالو د کیندنی او د ډیرو لګولو په ګډون د مید ایر موسسی په مرسته د ښاری عام المنفعه پروګرامونو په برابرولو سره او د حاجی یعقوب له څلور لاری څخه د ملک اصغر او د زمبق تر څلور لارو پوری د سړکونو د غاړو د ویالو د ترمیمولو طرحه برابره کړیده چی کـــــار بی په نږدی راتلونکی کی د ساختمانی شرکتونو لخوا پیل کیږی .

دغه راز د ساختمانی فعالیتونو تر څنګ یی د ښار د سمسورتیا او ښکلا په کار کی هم هر اړخیزی هلی ځلی کړیدی لکه څنګه چی د بابر د تاریخی بن د بیا احیا کولو او دغه راز د تینس میدان او د غسل کولو د خونی ترمیمول د بن د ټول انګر د ترمیمولو د یوزرو سلو میوه لرونکو او بی میوو نیالګیو ایښودل او د بابر د بن د کلوپ او مانی بیا جوړول چی تاریخی ارزښت لری یادولی شو .

د یو تن چارواکی د څرګندونو له مخی د یو ترانسفارمر په درولو سره په نږدی راتلونکی کی په دغه تاریخی بن کی د بریښنا بهیر هم تامینیږی.

د وړیو اوبدلو د ...

توکران تولیدوی .

د وړیو اوبدلو فابریکه خپل تولیدات په دیره ارزانه او ټیټه بیه امارتی ادارو ، موسسو او هیواد والو ته ورکوی . زمونږ هیواد وال کولی شی چی خپل د اړتیا وړ اجناس له دی ځایه تر لاسه کړی .

در ولایت لوګر ...

و مردم خویش در قسمت تعلیم و تربیه سالم نسل جوان کشور بذل توجه نمایند.

در دارالحفاظ احمد مجتبی که مربوط ریاست حج و اوقاف و در مرکز ولایت لوګر ایجاد ګردیده صد نفر از طلاب قبل از ظهر و بعد از ظهر مصروف تدریس علوم دینی میباشند.

بدریافت اسناد تکواندوي...

در محفلیکه بهمین مناسبت در مقر ریاست تربیت بدني و سپورت دایر ګردیده بود محترم استاد محمد خالد رئیس فدراسیون تکواندو سکرتر جنرال کمیته ملي المپيك و محترم استاد عبدالناصر هوتك نماینده اکادمي تکواندوي کوکي ون در رابطه به اهمیت ورزش و رشد آن در کشور صحبت نموده موفقیت هاي هر چه بیشتر آنان را جهت رشد ورزش تکواندو خواستار ګردید.

در اخیر اسناد اکادمی جهاني تکواندوي کوکي ون به محترم عبدالله هوتك، محترم فیصل یتیم، محترم بادام ګل ملنزم و محترم خیر الدین عالمیار توسط سکرتر جنرال کمیته ملي المپيك تفویض ګردید.

د چیچن مجاهدینو ...

د روسیی د اضطراری حالت وزارت د مامورینو د څرګندونو له مخی د غه بسونه د ارګون په ښار کی د روسیی د پولیسو استوګنځی ته نږدی د لاری په یوه موټر کی ایښودل شوی و . د روسیی مقاماتو دغه چاودنی تایید کړی او ویلی یی دی چی یو بل بم د ګودرمز په ښار کی چولی دی چی په نتیجه کی یی د ولس تنه وژل شویدی.

د چیچن د مسلمانو مجاهدینو یوه ویندوی هم ویلی دی چی د دغه جمهوریت مسلمانانو مجاهدینو په تیرو څلیرویشتو ساعتو کی د روسیی د یرغلګرو پوځیانو په مرکزونو او ادو باندی پنځه ځلی دغه شان بریدونه کړیدی.

په یوه تن قاتل ...

له لوستل کیدو وروسته محترم مولوی عبدالباری محترم مولوي عبداللطیف ، محترم مولوی عبدالجبار حقانی ، محترم مولوی محمد مراد او د بغلان او د کندز ولایتونو د نظامی محکمی محترم رئیس په وار سره په مجرمینو او جنایتکارانو باندی د قصاص او د شرعی حدودو د تطبیق د ښیګنو په باره کی خبری وکړی او د ټولنی د امنیت په تامینولو او د خلکو د پت او عزت د ساتنی په کار کی یی د الهی حکمونو او د شرعی حدودو د تطبیق ارزښتناک رول بیان کړ .

وروسته د نظامی محکمی پریکړه د بغلان ولایت د اطلاعاتو او کلتور د رئیس محترم ملا عبدالاحد مجروح لخوا ولوستل شوه او په قاتل باندی د قصاص الهی حکم عملی شو .

د ستري محکمي ...

کی بل قاضی ته واسطه نشی. چی دغه عمل دبدګومانی او هم د وخت د ضایع کیدو سبب کیږی.

محترم قاضی القضات وویل هغه پانی چی د خلکو لخوا محکمی ته وړاندی کیږی که چیری د شرعی پریکړی غوښتنه ونه کړی محکمه دی پانی تسلیم نه شی او خاوند ته یی مسترد دی شی او هم که چیری کومه موضوع او معامله چی په یوه محکمه کی له شرعی او قانونی مقرراتو سره سم فیصله او پایته رسیدلی وی او دغه پریکړه د پورتنیو محکمو لخوا هم نقض او یا باطله شوی نه وی یا همدغه موضوع په هماغه محکمه کی نشی وړاندی کیدای قاضیان باید د خپلو اجراآتو ټولو اړخونو ته زیات متوجه و اوسی.

وروسته د ستری محکمی د ذاتیه چارو ریاست او د تدقیق او مطالعاتو ریاست د پیشنهادونو په ګډون په اجندا کی د نیول شویو موضوعګانو په باب په دقیقه او هر اړخیزه توګه غور او خبرنه وشوه په ییلا بیلو برخو کی لازم تصمیمونه ونیول شول او د عملی کولو په مقصد اړوندو مراجعو او محکموته ابلاغ شول.

د هرات ولایت د مدرسو...

مولوی محمد نعیم ګل صدیقی ددغه شان سیمینارونو د علمی او تعلیمی ارزښت په باره کی خبری وکړی او نتیجی یی د پوهنی د چارواکو او مدرسینو د مسلکی پوهی د سطحی د لوړلو او د تجربو د زیاتوالی په کار کی ګټوری وبللی.

په دی سیمینار کی دغه راز په دری دیرشو مادو کی هغه مقرری او لایحی چی د پوهنی د رئیسانو په سیمینار کی تصویب شوی وی حاضرینو ته بیان شوی.

وروســـــته د هرات ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس محترم مفتی لطیف الله حکیمی د سیمینار د رول او په هیواد کی د پوهنی د اهمیت او ارزښت په باره کی خبری وکړی.

دغه سیمینار دری ورځی دوام کوی.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

در شفاخانه اتاترك از آغاز سال ...

معطوف میداریم .

در آغاز محترم مولوي حسام الدین «صابري» چنین ګفتند : شفاخانه اتاترك داراي صد بستر میباشد و در سه بخش فعالیت هاي طبي خود را انجام میدهد که فعلاً بخش سؤ تغذي آن از طرف موسسه ACF و بخشهاي امراض اسهال و تنفسي آن از طرف موسسه Save the Children تمویل مي شود باید ګفت که از آغاز سال ۱٤۲۱ تا کنون در این شفاخانه به تعداد ۳۰۰ مریض قابل بستر و به تعداد ۲۰۰۰ مریض O.P.D تداوي و معالجه ګردیده و بعد از تکمیل معاینات لابراتواري و صحت یاب شدن مرخص ګردیده اند

موصوف افزود : پرسونل شفاخانه اتاترك شب و روز در خدمت هموطنان عزیز ما قرار دارد البته آنعده از مریضان ما که نیازمند بستر باشند بستر مي شوند و آنعده مریضانیکه قابل بستر شدن نباشند بعد از معاینات دقیق ادویه بطور رایګان و توصیه لازم برایشان داده شده و مرخص میشوند باید ګفت که معاینات بیوشیمي و لابراتواري نیز در این شفاخانه طور رایګان صورت میګیرد . ناګفته نماند مریضانیکه تداوي آنها دراین شفاخانه ممکن نباشد ذریعه امبولانس هاي مجهز این شفاخانه به شفاخانه هاي دیګر انتقال داده میشوند.

مشکلاتي که هم اکنون ما با آن مواجه هستیم عبارت از کمبود آب، برق، و ګاهګاهي هم کمبود ادویه لازم مواد لابراتوار میباشد. ما در صدد آن هستیم تا در قدم نخست به کمك و همکاري وزارت محترم صحت عامه و در قدم هاي بعدي به کمك مالي موسسات خارجي مشکلات ذکر شده را حل و فصل نمایيم.

موصوف علاوه نمود : پیشنهاد من در رابطه به خدمات صحي به مقامات محترم مربوط اینست تا در قسمت تربیه کادر هاي مسلکي و فني توجه نمایند و کار را به اهل کار بسپارند یعني تشخیص و تدویر به زمان خود تطبیق شود. و مشکلات اقتصادي کارمندان وزارت صحت عامه را در نظر بګیرند تا بتوانند شب و روز بدون کدام تشویش روحي و مشکل اقتصادي بوجه احسن در خدمت مریضان باشند.

دراخیر محترم مولوي حسام الدین صابري اضافه نمودند: طوریکه قبلاً ګفتم دراین شفاخانه معاینات بیوشمي صورت میپذیرد و در آینده نزدیك در نظر داریم که یك سرویس ولادي و نسایي و پولي کلینیك اساسي را نیز در این شفاخانه فعال نمایيم. البته بخش نسایي ما در همین نزدیکي ها به کار خویش آغاز خواهد کرد. قابل یاد آوریست که ما با شفاخانه هاي صلیب سرخ کارته سه ، میوند، و صحت طفل اندراګاندي ارتباطات نزدیك داریم و در بعضي حالات آنعده از مریضان را که از ناحیه ګوش و ګلو، جراحي و جلدي شکایت داشته باشند توسط امبولانس هاي مجهز به آن شفاخانه ها انتقال میدهیم و آنعده از مریضان سؤ تغذي که رویه بهبود باشند آنها را به اساس مصلحت به کلینیك هاي محلي شان معرفي مینماییم.

محمد شعیب «صافي»

مردم پاریس پیروزي...

تیم ملي فوتبال فرانسه اخیراً با تیم ملي فوتبال ایتالیا به رقابت پرداخته که در نتیجه آن تیم ملي فرانسه با وارد کردن دو ګول در مقابل یك ګول بر تیم فوتبال ایتالیا غالب ګردید.

در جریان ګردهمایي هاي اهالي پاریس اغتشاشات و نا آرامي ها نیز بروز نموده که در نتیجه آن پولیس فرانسه سي و یك نفر را باز داشت کرد در جریان درګیري میان پولیس و اغتشاش کننده ګان شانزده مامور پولیس فرانسه نیز مجروح ګردیدند.

در جزیره فیجي ...

ګردید.

مقامات جزیره فیجي ګفتند که صدراعظم جدید در دولت موقت یکتن از بانکداران آنکشور بوده که از اهالي بومي آن جزیره نماینده ګي میکند.

قرار یك خبر دیګر فرمانرواي نظامي فیجي اعلان کرده است تا زمانیکه کودتاه چیان ګروګان ها را که در پارلمان فیجي نګهداري کرده اند آزاد نسازند وي بحیث فرمانرواي نظامي فعالیت خواهد کرد.

کودتاه چیان بتاریخ نوزدهم ماه مي ګذشته پارلمان فیجي را اشغال نموده و سي و یکنفر را که در بین آنان مهندرا چودري **صدراعظم آنکشور نیز شامل میباشد. به ګروګان ګرفتند.**

پاملرنه

درنو ګډون کوونکو!

که چیری د شریعت اوونیزه په ټاکلی وخت نه در رسیږی او یا هم هیڅ نه در رسیږی

نو د معلوماتو لپاره په ٦۲۸٥۹ او ۲۱۳۸۱ شمیره تیلفونی تماس ونیسی.

اداره

SHARIAT WEEKLY

Published by :

Islamic Emirate of Afghanistan

Chief Editor: Abdurrahim Saqeb

Printed by: Emirate's Printing Press